Rheinland-Pfalz
MINISTERIUM FÜR BILDUNG

# د ښوونځي سستم
# RHEINLAND-PFALZ
# په اسانه اصطلاح کې

د نوي کډوالو کورنیو لپاره معلومات – په 22 ژبو کې موجود دي



Paschtu

**Potenzial & Perspektive**
Ein Analyseverfahren für neu Zugewanderte



# په RHEINLAND -PFALZ ښوونځی

وي ( DaZ = Deutsch als Zweitsprache - جرمني د دويمې ژبې په توګه). هغه ماشومان او ځوانان چې لږ شان جرمني ويلی شي يا پرې پوهيږي يا بيخي نه شي ويلی، دلته په اوونۍ کې تر 20 ساعتو پورې جرمني ژبه زده کوي. په پاتې ساعتو کې، هغوی په خپل صنف کې په درسونو کې برخه اخلي.

زيات ښوونځي له 2P پروګرام څخه استفاده کوي. په دې سره هغوی دا تعين کولی شي چې نوي کډوال محصلين له مخه څه کولای شي.

**2P** Potenzial & Perspektive
Ein Analyseverfahren für neu Zugewanderte

## ابتدايي ښوونځی (Grundschule)

د ابتدايي ښوونځي محصلين هغه ښوونځي ته ځي چې د هغوی د استوګنې لپاره مسؤل وي. په ابتدايي ښوونځي کې، د نورو شيانو سربيره ماشومان د لوست، ليک او شمير ابتدايي اساسي مهارتونه زده کوي.

د ښوونځي په څلورم کال کې، ماشومان د مخکې ښوونځي د داخلې لپاره سپارښت ترلاسه کوي. لاکن، د مخکې ښوونځي د داخلې پريکړه د والدينو پورې تړاو لري. ښوونځي والدينو ته په دې هکله مشوره ورکوي.

په RHEINLAND-PFALZ کې بايد ټول ماشومان ښوونځي ته ځي (لازمي زده کړه) کوم ماشومان چې د داخليدو د کال تر 31 اګست پورې شپږ کلن شي، هغوی ښوونځي ته د تللو مسؤليت لري.

د ښوونځيو دوه ډوله دي: په لومړۍ کې، ټول ماشومان له 1 څخه تر 4 ګريډ پورې **ابتدايي ښوونځي** ته ځي. بيا له ګريډ 5 څخه تر لږ تر لږه ګريډ 9 پورې هغوی منځني ښوونځي **ا** ته ځي. وروسته، هغوی **مسلکي ښوونځي** ، **تخنيکي ښوونځي** يا **ګرامر ښوونځي** ته تللی شي.

که تاسو يا ستاسو کورنۍ له خارج څخه راغلي يي او RHEINLAND-PFALZ ته کډه شوي يئ، نو ښوونځي به تاسو ته دا تجويز وړاندې کړي چې ستاسو د ماشوم/ ماشومې لپاره کوم ډول ښوونځی مناسب دی. لطفاً د مشاورت په دې ليدنه کې له ځان سره د خپل ښوونځي راپورونه راوړئ.

## د مرستې ژبه

په صنف کې، ماشومان او ځوانان سره له ښوونکو جرمني ژبه وايي. هغه ماشومان چې مورنۍ ژبه يې دا نه وي، د جرمني د ژر زده کولو لپاره په ښوونځيو کې DaZ کورسونه موجود

## تخنیکي ثانوي ښوونځی (Fachoberschule)

په ځینې Realschule  پلاس کې تخنیکي ثانوي ښوونځی (FOS) هم موجود وي. دلته، په ګریډ 11 او 12 کې درسونه او مسلکي تمرین په ګډه ترسره کیږي. په دې کې بیلابیل ځانګړتیاوې یا اختصاصونه وي، د بیلګې په توګه اقتصادیات او تنظیم، تکنالوژي یا روغتیا او ټولنیز کار.

**د ښوونې او مسلکي مشق جوړښت**

له  تخنیکي ثانوي ښوونځی څخه د فراغت وروسته، زده کوونکي په تخنیکي ثانوي ښوونځی [تخنیکي پوهنتون] کې زده کړه ترلاسه کولی شي یا مسلکي روزنه پیلولی شي.

## ګډ پراخه ښوونځی (Integrierte Gesamtschule)

د ښوونځي د پریښودلو ټول لیاقتونه په ګډ پراخه ښوونځي (IGS) کې ترلاسه کیدی شي.
له ګریډ ۹ څخه وروسته، مسلکي لیاقت، له ګریډ ۱۰ وروسته د ورتیا منځنی لیاقت، له ګریډ ۱۲ څخه وروسته د مخکې تخنیکي پوهنځي د لیاقت درسي برخه یا له ګریډ ۱۳ څخه وروسته د عمومي مخکې تخنیکي پوهنځي لیاقت (Abitur).
په IGS کې د ښوونځي د پریښودلو د سرتیفیکېټ پریکړه د اوږد وخت لپاره خلاصه وي.

په IGS کې، محصلینو ته په ځینې موضوعګانو او د کورس په نورو موضوعګانو کې د بریا په بیلابیلو کچو سره په ګډه ښوونه کیږي.

## منځني ښوونځي



په RHEINLAND-PFALZ کې درې ډوله منځني ښوونځي وي:
**Realschule plus [منځنی**
**ښوونځی] ګډ Integrierte**
**Gesamtschule (IGS) [جامع**
**جامع ښوونځی] او [د ګرامر ښونځی] Gymnasium**

دا امکان شته چې د ښوونځي په دغه دوه ډولونو کې له یو څخه بل ته واوړئ او که چیرې درسونه د ماشوم/ماشومې لپاره زیات مشکل یا زیات اسان وي نو دا بدلون کټه ور کیدی شي.

## Die Realschule plus پلاس

ه Realschule plus کې، محصلینو ته مخکې دا معلومه شي چې هغوی په کوم مسلکونو کې علاقه لري (مسلک پیژندنه). د ګریډ 9 څخه وروسته، زده کوونکي کولی شي چې د مسلکي مهارت په سرتیفیکېټ (Hauptschulabschluss) سره فارغ شي.
د ګریډ 10 څخه وروسته، محصلین د لیاقت منځنی سرتیفیکېټ (Mittlere Reife)  ترلاسه کولی شي. وروسته له دې محصلین مسلک زده کولی شي. د ګریډ 10 د ځانګړي ګریډ کچې په اوسط سره په بریالي توګه د بشپړیدو وروسته، محصلین په کې تخنیکي ثانوي ښوونځی (FOS) ، مسلکي ښوونځی (BBS) یا gymnasiale Oberstufe  کې هم داخله اخیستلی شي.



که شاګردي ترلاسه کړي، نو په مسلکي ښوونځي کې به ضرور داخله ترلاسه کوي.

### د روزنې له لارې فراغت



له 300 څخه زيات د شاګردۍ مسلکونه موجود دي. زده کوونکي له دوو څخه تر درې نيم کالو پورې په يو شرکت او مسلکي ښوونځي کې په زده کړه تيروي.

دا دوه ګونی روزنه د آلمان د ښوونځي سستم خصوصي ځانګړنه ده. دا امکان هم شته چې مسلکي لياقت ترلاسه کړي يا، په ځينې موارډو کې، حتی د منځني ښوونځي د پرېښودلو وړ سرټيفيکېټ ترلاسه کړي. د مسلکي روزنې د پيلولو لپاره، دا ضروري نه ده چې تاسو د مسلکي مهارت تصديق بشپړ کړی وي.



### جمنازيوم يا ليسه (Gymnasium)

په جمنازيوم کې، محصلين له ابتدا څخه ښه مهارتونه او وړتياوې ترلاسه کوي څو هغوی وروسته کولای شي چې په پوهنتون کې زده کړه وکړي يا مسلکي روزنه ترلاسه کړي. په RHEINLAND-PFALZ کې زياتره محصلين د 9 کالو لپاره په جمنازيوم (G9) کې داخله کوي. په ډېرو جمنازيومو کې د Abitur ازموينې يوازې 8 کاله وروسته (G8GTS) اخيستل کيدی شي.

د جمنازيوم په لومړي ټولګو کې، محصلينو ته په صنفونو کې درس ورکول کيږي. په آخري درې ټولګو کې، هغوی ځيني اختصاصونه انتخابولی شي او د جمنازي Oberstufe ترلاسه کولو لپاره د ليسې د کورس په سستم کې داخله کولی شي.

### مسلکي ښوونځی (Berufsbildende Schule)

Berufsbildende Schules (BBS) د مسلکي روزنې او ښوونځي پرېښودنې د لياقتونو لپاره ګڼ شمېر فرصتونه وړاندې کوي.

که ځوانان له مخه په ښوونځي کې نهه کاله تير کړي وي او لا نه شي کولی چې د ښوونځي د پرېښودلو سرټيفيکېټ ترلاسه کړي، هغوی د مسلکي چمتووالي کال (BVJ) اخيستلی شي چې د خپل مسلکي مهارت سرټيفيکېټ ترلاسه کړي. په مسلکي ښوونځي کې په داخليدو سره او بيا په مسلکي پوهنځي کې، هغه زده کوونکي چې د مسلکي مهارت سرټيفيکېټ لري، کولی شي چې په دوو کالو کې کواليفاييډ سيکنډري سرټيفيکېټ ترلاسه کړي. که هغوی اړين شرايط پوره کوي، نو هغوی د مخکې تخنيکي کال د داخلې لياقت يا Abitur په مسلکي منځني ښوونځيو کې ترلاسه کولی شي. ښوونځي محصلينو ته په دې هکله مشوره ورکوي چې کومه لاره د هغوی لپاره مناسب ده.

د هر ډول ښوونځيو په هکله نور معلومات دلته کتلی شئ:
**https://bildung-rp.de/schularten.html**

**دا خبر پاڼه د ډاونلوډ کولو لپاره په دې ژبو کې موجوده:**

- Deutsch
- العربية (Arabisch)
- Bosanski (Bosnisch)
- Български (Bulgarisch)
- 中文 (Chinesisch)
- فارسی دری (Dari)
- English (Englisch)
- Français (Französisch)
- Ελληνικά (Griechisch)
- Italiano (Italienisch)
- Hrvatski (Kroatisch)
- پښتو (Paschtu)
- Polski (Polnisch)
- Português (Portugiesisch)
- Русский (Russisch)
- Română (Rumänisch)
- Српски (Serbisch)
- Español (Spanisch)
- ትግርኛ (Tigrinya)
- čeština (Tschechisch)
- Türkçe (Türkisch)
- Magyar (Ungarisch)

په **https://migration.bildung-rp.de**



**هغه محلصين چې د زده کړې ځانګړې ارتياوې لري**

هغه محلصين چې د زده کړې ځانګړې مرستې ته اړتيا لري، هغوی د ځانګړې زده کړې د اړتيا لرونکو په توګه پیژندل کیدی شي. د دې محصلينو والدين د عادي يا د ځانګړې ښوونځي ترمنځه انتخاب کولی شي. په ځانګړي ښوونځيو او عادي ښوونځيو کې، په Realschule plus يا د ښوونځي د پرېښودنې ځانګړې ورته لياقتونه (د مسلکي مهارت ځانګړې فورمه، د ښوونځي پرېښودنې لياقت د هوليستکې پرمختګ د ځانګړې تمرکز په برخه کې) ترلاسه کيدی شي.

# حقوقي خبرتيا

**د عکسونو کريډيټونه:**
shutterstock.com/wavebreakmedia (سرليک);
istockphoto.com /ferlistockphoto (3 مخ);
istockphoto.com /DMEPhotography (4 مخ);
istockphoto.com /monkeybusinessimages (5 مخ)

**نيټه:**
جون 2021

**سمون:**
Christiane Schönauer-Gragg

**ډيزاين:**
RHEINDENKEN GmbH
www.rheindenken.de

Rheinland-Pfalz
MINISTERIUM FÜR BILDUNG

GEFÖRDERT VOM

Bundesministerium
für Bildung
und Forschung

د زده کړې وزارت
(Ministerium für Bildung)
Mittlere Bleiche 61
55116 Mainz

poststelle@bm.rlp.de
www.bm.rlp.de